❖❖❖

# د افغانستان-ازبکستان ګډ سوداګریز بازار د فرصتونو او ننګونو تحلیل

*شوکت الله عابد**

**لنډیز**

*ګډ سوداګریز بازارونه یا آزاد سوداګریز زونونه د تولیداتو په بازار موندنې او سوداګرۍ کې مهم اقتصادي او سوداګریز فرصتونه بلل کېږي. له دغو فرصتونو څخه ټول دخیل اړخونه اقتصادي ګټه پورته کوي، تولید پراختیا مومي، پېرودونکو ته د دوی له اړتیاوو او غوښتنو سره سم په اسانۍ او ټېټه بیه تولید رسیږي، نوي پېرودونکي جذبیږي، پانګونه پراختیا مومي، د خصوصي او عامه ګډې پانګونې فرصتونه رامنځته کېږي، د کار زمینه برابرېږي او ګڼې نورې اقتصادي ښېګڼې او ګټې لري. د افغانستان او ازبکستان ګډ سوداګریز بازار هم په دې برخه کې د دواړو هېوادونو له لوري رامنځته شوی دا ډول یو فرصت دی. په دې مقاله کې د دغه بازار د پېژندنې، اقتصادي ښېګڼو او په دغه برخه کې شته فرصتونه او ننګونې په توصیفي - تحلیلي بڼه څېړل شوي او اړوند معلومات په کتابتوني بڼه راټول شوي دي. د څېړنې پایلې ښیي، چې په دغه ګډ بازار او آزاد سوداګریز زون کې پر ګڼو فرصتونو سربېره یو شمېر ننګونې هم شته چې په دغه سوداګریز زون کې یې د افغان سوداګرو د پانګونې د پراختیا مخه ډب کړې او د افغان توکو د پلور په برخه کې خنډونو ترڅنګ یې ځینې نورې سوداګریزې ننګونې هم زېږولې دي. څېړنه وړاندیز کوي چې د دغو ننګونو هوارۍ د افغانستان او ازبکستان لپاره اقتصادي اهمیت لري او د دواړو هېوادونو د اقتصادي اړیکو په پراختیا کې مهم رول لرلی شي.*

***کلیدي کلمې:*** *افغانستان، ازبکستان، اقتصاد، سوداګري، ګډ بازار، فرصتونه، ننګونې.*

---

* د علومو اکاډمۍ غړی

## سریزه

دا چې ټول هېوادونه د خپلو کورنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره بهرنۍ سوداګرۍ ته اړتیا لري، له کبله یې له نورو هېوادونو سره سوداګریزې اړیکې جوړوي او په پایله کې یې ګډه اقتصادي وده رامنځته کېږي. د هېوادونو ترمنځ اقتصادي ادغام د اقتصادي ودې او سیاسي ثبات لپاره خورا ارزښتناک دی. افغانستان هم د خپل مات شوي اقتصاد د بیارغونې لپاره بهرنۍ سوداګرۍ ته اړتیا لري. د افغانستان اقتصاد چې د مصرفي اقتصاد ترڅنګ تجارت محوره اقتصاد هم بللی شو، داخلي اړتیا یې تر ډېره په وارداتو متکي ده او د هېواد کورنۍ تولید د کورنیو اړتیاوو او تقاضاوو د ځواب لپاره بسنه نه کوي. له همدې ځایه ده، چې افغانستان د نړۍ له څه باندې ۸۰ هېوادونو سره سوداګریزې اړیکې لري او دا اړیکې ورځ تر بلې پراخېږي (ایراف، ۲۰۲۴).

افغانستان د منځنۍ آسیا له هېوادونو سره هر کال تر یونیم ملیارد ډالرو ډېره سوداګري لري، چې یوه زیاته برخه یې له ازبکستان سره ده او کچه یې کال په کال زیاته شوې ده. په ۱۳۸۱ل کال کې افغانستان له ازبکستان څخه د ۶۱,۳ میلیون ډالرو په ارزښت واردات لرل، چې دغه کچه بیا یو کال وروسته ۸۹,۴ میلیونو ډالرو ته پورته شوې او دوه کاله وروسته په ۱۳۸۳ل (۲۰۰۴ز) کال کې بیا دا حجم ۱۲۶,۲ میلیون ډالرو ته پورته شوی دی (Vladimir & Strokov, 2006). په دغو وارداتو کې بیا ډېره برخه د انرژۍ ده او لا هم افغانستان د دغه هېواد پر انرژۍ متکي دی. په ۱۴۰۲ل (۲۰۲۳ز) کال کې ازبکستان، افغانستان ته د ۷٦٦ میلیونه ډالرو په ارزښت صادرات لرل او افغانستان دغه هېواد ته د ۱۰,۴ میلیون ډالرو په ارزښت صادرات لرل (OEC, 2025). دغه راز، د ۱۴۰۳ل (۲۰۲۴ز) کال په لومړیو لسو میاشتو کې افغانستان ته د ازبکستان د صادراتو کچه ۸۵۵,۹ میلیونه ډالرو ته پورته شوه (Kamran, 2024). په دغو صادراتو کې انرژي، سون توکي، غله جات او نور توکي شامل دي، چې په دغه کال د افغانستان

صادرات ۵٦,۷۱ میلیون ډالر راپور وکړل شوی دی (Tradingeconomics, 2025). انګور د افغانستان د صادارتو په سر کې ځای درلود، چې تر ۱,۸۵ میلیون ډالرو په ارزښت دغه هېواد ته صادر شوي او اوړه بیا د ازبکستان د صادراتو په سر کې ځای لري چې د ۴۴۸ میلیون ډالرو په ارزښت افغانستان ته راوارد شوې دي (OEC, 2025).

له پورته معلوماتو او د صعنت او سوداګرۍ وزارت له ارقامو څخه دا پایله ترلاسه کېږي چې له ازبکستان سره د افغانستان سوداګري مخ پورته روانه ده. د دغو سوداګریزو اړیکو په لړ کې په ورځنۍ کچه د افغانستان کابو ٦۵۰ باروړونکي موټرونه د ازبکستان بېلابېلو سیمو ته د لېږد را لېږد چاره سرته رسوي، چې د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ په برخه کې دغه اړیکې خورا اهمیت لري. د ۱۴۰۴ کال په ورستیو کې له ګاونډي هېواد پاکستان سره په صفري نقطو کې امنیتي او سیاسي ستونزې د دې لامل شوې چې له دغه هېواد سره د سوداګرۍ بېلانس ټیټ او پر ځای یې له ازبکستان او د منځنۍ آسیا هېوادونو سره د سوداګرۍ بېلانس لا ډېر لوړ شي.

له ازبکستان هېواد سره د سوداګرۍ او سوداګریزو اړیکو په لړ کې یو هم د دواړو هېوادونو ترمنځ ګډ بازار او آزاد سوداګریز زون دی، چې له شک پرته پر دوه‌اړخیزه سوداګرۍ او اقتصادي اړیکو برخو کې پام‌وړ اهمیت لري. دا مقاله د دغه بازار او ورته شته فرصتونه او ننګونې په توصیفي – تحلیلي مېتود راسپړي چې پکې له بېلابېلو ثانوي معلوماتو ګټه اخیستل شوې ده.

مقاله لومړی د هېوادونو ترمنځ پر ګډو سوداګریزو بازارونو او د هغوی پر اهمیت بحث کوي، وروسته د افغانستان-ازبکستان پر ګډ سوداګریز بازار او د هغه لپاره شته فرصتونو او ننګونو بحث کوي او په پای کې اړوندو لورو ته په دې اړه لازم وړاندیزونه هم لري.

**۱. ګډ سوداګریز بازارونه**

د نړۍ په کچه بېلابېل سوداګریز بازارونه، نړیوال بازارونه، دولتي یا غیر انتفاعي بازارونه، ګډ بازارونه، د اسهامو بازارونه او داسې نور شته، چې له ډلې یې ګډ سوداګریز بازارونه د ګډې سوداګرۍ او اقتصادي اړیکو لپاره رامنځته کېږي او په عمومي توګه په کې د تعرفو ننګونې راکمېږي. په دا ډول بازارونو کې د دوو هېوادونو تر منځ د مشترک بازار په نوم یوه سیمه ځانګړې کېږي او هلته سوداګریز فعالیتونه ترسره کېږي، چې هغې سمې ته د ګډ بازار نوم ورکول کېږي.

ګډ بازارونه یا آزاد سوداګریز زونونه یا هم ځانګړي اقتصادي زونونه[1] په نړۍ کې اوږده مخینه لري. دغه زونونه په ۱۹مه پېړۍ کې په اسیا کې فعال شول او په ۲۰مه پېړۍ کې د اقتصادي پرمختیا د قوي ابزارو په توګه وپېژندل شول (Ford, 2024). په دې برخه کې ښه بېلګه د چین شینزن ازاد زون[2] دی، چې ښه پایله یې ورکړې ده. د وخت په تېرېدو سره په نړۍ کې آزاد تجارتي زونونه لا پسې ډېر شول. په ۱۹۹۵ز کال کې د نړۍ په کچه ۵۰۰ آزاد زونونه وو، په ۲۰۰٦ ز کال کې دغه اندازه تر ۳٦۰۰ پورې ورسیده او په ۲۰۲۴ز کال کې بیا تر ۷۰۰۰ هم واوښته (Ford, 2024). له همدې ځایه جوتېږي چې د نړۍ په اقتصاد کې آزاد تجارتي زونونه او ګډ بازارونه ښه اغېز لري.

په ګډو سوداګریزو بازارونو کې د دخیلو هېوادونو توکي خرڅلاو ته وړاندې کېږي، مشتریان یې هم د اړوندو هېوادونو، یا له بېلابېلو هېوادونو څخه وي، او د ګډې هوکړې له مخې په کې سوداګري ترسره کېږي. په ګډو بازارونو کې اړوند هېوادونو په کرنیسو پېر او پلور کېږي او همداشان ټول دخیل اړخونه په کې یو شان تجارتي حقوق لري.

---

[1] Special Economic Zones

[2] Shenzhen Free Zone

په نړۍ کې تر ټولو مهم او ستر آزاد سوداګریز زون په دوبۍ کې د جفزا[۱] یا جبل علي ازاد زون[۲] دی. دا په منځني ختيځ کې هغه سوداګریز زون دی چې تر ۷۰۰۰۰ فعالو کمپنيو په کې په کلني ډول تر ۱۷۰ ميليارده ډالرو پورې سوداګري ترسره کوي (Irsalogistics, 2025). دا سوداګریز زون د وارداتو او صادراتو په برخه کې د اسانتياوو د رامنځته کولو او اقتصادي راکړې ورکړې له امله د اهميت وړ دی، ځکه هلته موجودې کمپنۍ د همدې زون له لارې د نړۍ نورو بازارونو ته د خپلو صادراتو د رسولو هڅه کوي او په همدې توګه دوی نړيوالو بازارونه ته د خپلو توکو د لېږد لار پيدا کوي.

د دغو آزادو تجارتي زونونو او ګډو بازارونو اقتصادي اغېزې له بېلابېلو اړخونو څخه د پام وړ دي. په عمومي توګه په دغو ساحو کې تعرفه له منځه ځي، سوداګريز محدوديتونه راکمېږي، د دواړو هېوادونو د توکو لپاره يو شان بازارموندنه او نور سوداګريز او اقتصادي فعاليتونه ترسره کيږي. د آزاد سوداګريز زون يا ګډ سوداګريز بازار اقتصادي اهميت په لاندې ټکوکې را ټولېدای شي (Fernandes, 2024).

**الف: د پانګونې جذب:** دا زونونه او بازارونه د ځايي او نړيوالو پانګوالو د جذب سبب ګرځي او په همدې موخه پانګونه هڅوي. په دغه زون او ګډ بازار کې د پانګونې د هڅونې بېلابېل لاملونه وي، چې يو لامل يې له مالياتو څخه معافيت او يا هم د سوداګرو لپاره د ماليات‌و په برخه کې ځانګړې ښېګڼه وي.

**ب: زيربنايي پراختيا:** که وکتل شي نو په ډېرو آزادو سوداګريزو زونونو کې پرمختللې زېربناوې رامنځته کيږي، لکه: سړکونه، ترانسپورتي وسايل او نور بېلابېل

[1] JAFZA
[2] Jabel Ali Free Zone

خدمات. له همدې ځایه، د دغو ګډو بازارونو او آزادو سوداګریزو زونونو په وسیله سوداګریزه زیربناء پرمختګ کوي.

**ج: اقتصادي وده:** د دغو سوداګریزو ساحو په وسیله اقتصادي ودې او پرمختیا ته زمینه برابرېږي، د دندو رامنځته کېدل، د بې‌کارۍ کمښت، د ژوند د سطحې لوړوالی، د عاید د سرچینو ایجاد، د توکو نسبتاً ټیټ نرخ او ځینې نور فکتورونه دي چې د هېوادونو له اقتصادي ودې سره مرسته کوي.

**د: د نوښتونو پراختیا:** اقتصادي زونونه د نوښتونو له پراختیا سره مرسته کوي. په دغو ګډو سوداګریزو ساحو کې چې هېوادونه او کمپنۍ پانګونه کوي، دوی د ځانګړې رقابت، د نویو مشتریانو د جذب، سوداګریزې پراختیا او د نورو موخو د لاسته راوړلو لپاره هڅه کوي ترڅو پرمختللې ټکنالوژۍ، تولیدات او خدمات وړاندې کړي. له همدې امله ځینې پروسې ساده کېږي، نوې سوداګریزې پروسې وړاندې کېږي او په همدې سره نوښتونو ته زمینه برابرېږي او هڅول کېږي.

**هـ: د سیاسي او ډیپلوماټیکو اړیکو پراختیا:** ګډ بازارونه د سوداګریزو اړیکو په وسیله د سیاسي اړیکو او باور جوړونې لپاره فرصتونه رامنځته کوي. په سیمه‌ییزو او نړیوالو درېځونو کې اقتصادي او سوداګریز شریکان یو بل پالي او یو له بله سره د سیاسي اړیکو د خرابېدو هڅه نه کوي، چې دا اقتصاد محوره اړیکې، سیاسي او ډیپلوماټیکو اړیکو پراختیا او پیاوړتیا ته زمینه برابروي.

په دې توګه ویلی شو چې ګډ سوداګریز بازارونه د اړوندو هېوادونو لپاره اقتصادي تنوع رامنځته کوي، سیمه‌ییز ادغام سره مرسته کوي، سوداګریزې پراختیا ته زمینه برابروي، تولیدي وړتیاوې لوړوي، اداري جوړښتونه او نوښتونه غښتلي کوي او نورو ډېرو فرصتونو ته زمینه برابروي (ADB, 2023).

**۲. د افغانستان-ازبکستان ګډ سوداګریز بازار**

د افغانستان-ازبکستان ګډ سوداګریز بازار یا آزاد سوداګریز زون، د ازبکستان او افغانستان د سوداګرۍ د پراختیا لپاره یو ښه فرصت دی، چې د حیرتانو سرحدي نقطې ته نږدې د ترمذ په ساحه کې موقعیت لري. د دغه بازار مساحت ۲۶۰۰۰۰ متره مربع دی (ACCI, 1403)، چې د بېلابېلو جنسونو پلورنځي، تولیدي سیمې، د صادراتو او وارداتو لپاره د لوجستیک مرکز، رستورانتونه، میلمستونونه، هاسټلونه، روغتون، د تیلو ټانک او تفریحي ځایونه په کې شامل دي. دغه بازار د ۷۰ میلیونه ډالرو په ارزښت جوړ شوی دی (NCA, 2024).

دغه بازار د ازبکستان له لوري جوړ شوی او ټولې امنیتي او خدماتي چارې یې هم د هغه هېواد له لوري اداره کیږي. په دغه بازار کې تر ۳۶۳ پورې پلورنځي او هټۍ موجودې دي، چې ۸۸ یې افغان سوداګرو او هټۍوالو ته ځانګړې شوې او ۲۷۵ یې ازبک سوداګرو او هټۍوالو ته ځانګړې شوې دي (احساس, 1403). د دغه زون د جوړولو په طرحه کې تر ۱۸۰۰ پورې پلورنځي پلان شوي، چې کلنۍ ګټه به یې ۵۰۰ میلیون ډالره وي، د خدمتونو اندازه به یې ۱۰ میلیون ډالره او له دې ساحې څخه به د ازبکستان د صادراتو ارزښت ۱۹۲ میلیون ډالره وي (Uzbekistan Presedent office, 2021).

د دواړو هېوادونو د ګډې هوکړې له مخې، دغه بازار ته افغانان پرته له ویزې سفر کولی شي او هلته تر ۱۵ ورځو پورې له ویزې پرته پاتې کېدای شي. د دوی د سفر د تسهیل لپاره په دواړو غاړو کې ګمرکي خدمات او د پاسپورټ د کنټرول خدمات په ۲۴ ساعته بڼه فعال دي (احساس, 1403).

د شمېرو له مخې، دغه بازار ته په ۲۰۲۴ز کال کې له پرانیستې وروسته د ورځې تر ۲۰۰۰ لېدونکي له افغانستان څخه ورغلي دي (Goryachkin, 2024) او دغه بازار ډېر

ژر په افغانانو او په ځانګړې توګه د شمال ولایتونو په سوداګریزو ټولنه او خلکو کې مشهور شو.

په دغه بازار کې ازبک هټیوال خپل مالیات د ازبکستان له مالیاتي اصولو سره سم خپل هېواد ته تحویلوي خو افغان سوداګرو په یاد بازار کې تر دې دمه مالیه نه ده ورکړې، چې دا د افغانستان د سوداګرو او د پانګونې د هڅونې او ملاتړ لپاره ښه پالیسي ده.

په لومړیو کې داسې ویل کېدل چې په دغه بازار کې به د ازبکستان پر کرنسۍ سربېره یورو، ډالر، روبل او چینایي ین هم د چلښت وړ وي. خو اوسمهال له مشاهدې جوتیږي چې اکثریت پلورونکي یوازې د ازبکستان په پیسو پیر او پلور ترسره کوي (Airitom, 2025).

د ازبکستان له لوري په شننو او لیکنو کې دغه بازار ته د ترمذ سوداګریز مرکز[1] نوم کارول کېږي او د ګډ بازار کلمه ورته ډېره په ندرت سره کارول شوې ده. خو افغان لوری دغه بازار ته د ګډ بازار نوم ورکوي او په حقیقت کې یو ګډ سوداګریز بازار هم دی چې د دواړو هېوادونو پر پانګونه، د دندو په رامنځته کولو، د پانګې په تشکیل، سوداګرۍ، ترانزیت، د دواړو هېوادونو په تجارتي اړیکو، سیمه‌ییزو سوداګریزو اړیکو په پراختیا او نورو شاخصونو باندې مثبتې اغېزې لري.

یاد ګډ سوداګریز بازار د افغانستان او ازبکستان د توکو د بازارموندنې او سوداګرۍ لپاره د یوه مهم مرکز په توګه معرفي کېدای شي، چې ډېر سوداګریز فرصتونه په کې شته دي او د دغو فرصتونه روښانه کول د څېړنې مبرمیت په ډاګه کوي. د دې سوداګریز بازار په وسیله له ازبکستان سره د افغانستان د سوداګرۍ او اقتصادي همکاریو د پراختیا، ګډې او انفرادي پانګونې لپاره فرصتونه شته چې ډېرې ښېګڼې او اقتصادي مزیتونه لري. له بلې خوا په بازار کې د افغان سوداګرو پرمخ یو لړ اساسي

[1] Termez Trade Center

ستونزې موجودې دي، چې په لاندې برخه کې به څرګندې شي او د حل په موخه به یې مناسب وړاندېزونه ترسره شي.

### ۳. فرصتونه

آزاد سوداګریز زونونه د اړوندو هېوادونو لپاره بېلابېل اقتصادي فرصتونه ایجادوي. څېړنو ښودلې چې د آزادو سوداګریزو قراردادونو [۱] په وسیله د دخیلو هېوادونو ترمنځ د ټکنالوژۍ لېږد اساسي موضوع ده، او دا بحث د هېوادونو په اقتصادي وده کې مرسته کوي (Ngandu, Chilufya&Phillips, 2019). د افغانستان او ازبکستان ترمنځ ګډ سوداګریز زون هم د دواړو لورو لپاره ګڼ اقتصادي فرصتونه ایجاد کړي. ځینې دا فرصتونه په لاندې ډول دي:

- په افغانستان- ازبکستان ګډ سوداګریز بازار کې د ازبک تولید لپاره غوره مارکیټ ایجاد شوی چې ډېر افغان پېرودونکي یې جذب کړي دي. دا چاره د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګریزو توکو د راکړې ورکړې د پراختیا لامل کېږي.
- په دغه بازار کې تر دریو زرو زیاتو خلکو ته د کار زمینه برابره شوې ده، چې په دې برخه کې ډېر فرصت د ازبک لوري لپاره ایجاد شوی دی.
- د حفظ او مراقبت، امنیتي پوښښ، خدماتي برخې او نور برخو کې ازبک متخصیصین او کارګر په دندو بوخت دي. دغه سوداګریز فرصتونه د یاد هېواد لپاره ډېر اقتصادي اهمیت لري، چې د سیمې د نورو هېوادونو د سوداګرو او تولیداتو په سهم سره دا بازار لا هم پراختیا موندلی شي.

[1] Free Trade Agreements

- دغه سوداګریز بازار د افغانستان لپاره هم ګڼ اقتصادي فرصتونه رامنځته کړي او کومې هڅې چې د افغان سوداګرو په واک کې دي، افغان توکي او جنسونه په کې پلورل کیږي.
- د افغانستان-ازبکستان ګډ سوداګریز بازار یاد هېواد ته د افغانستان په صادارتو او ترانزیت کې مهم رول لري. د دغه مرکز په پرانیستو سره افغانستان ته د ازبکستان صادرات هم مخ پر ودې تللي او په راتلوونکو کلونو کې د شته ستونزو او ننګونو په حل سره دا ارقام مخ پورته تللی شي. د ۲۰۲۵ز کال په لومړیو اتو میاشتو کې افغانستان ته د ازبکستان صادرات ۸۸۱,٦ میلیون ډالرو ته رسیدلي، چې دغه رقم د ازبکستان د ټولو صادراتو ۳,۸ سلنه جوړوي (اسپونتیک، ۲۰۲۵). د ارقامو له مخې په ۲۰۲۵ ز کال کې د ۲۰۲۴ کال پرتله ۴۵,۵ سلنه ډېروالی راغلی او همداشان د ۲۰۲۳ کال پرتله په کې ۸۴,۴ سلنه ډېروالی راغلی دی (Ariana, 2026).

**۴. ننګونې**

دغه ګډ بازار که څه هم د دواړو هېوادونو لپاره اقتصادي او تجارتي ښېګڼې لري، خو په ورته وخت کې دواړو لورو ته یو لړ ننګونې هم لري چې د دغه تجارتي زون مثبتې اغېزې تر سیوري لاندې راولي. په دې توګه د افغان تولیداتو د بازارموندنې او د ازبک مشتریانو په وړاندې په عمومي توګه لاندې ستونزې او ننګونې موجودې دي:

- د افغان تولید پېرودونکي د ازبکستان لوری دی، نو اړتیا ده چې د ازبکستان حکومت خپلو خلکو ته دې بازار ته د تګ راتګ په برخه کې اسانتیاوې او امکانات لا ډېر کړي، ځکه چې اوسمهال په دې برخه کې یوه ستونزه دا ده چې ازبک پېرودونکي په میاشت کې یو ځل دې بازار ته راتلی شي. دا چې د تولید

پراختیا، د پېرودونکو په ډېرېدو پورې اړه لري او که پېرودونکي محدود او لږ وي، نو په تولید منفي اغېز کوي، اړتیا ده چې مقابل لوری بازار ته د خپلو خلکو آزاد تګ راتګ تسهیل کړي او په دې برخه کې د افغان-ازبک سوداګري او اړیکې لا پیاوړې شي.

- ازبک پېرودونکي د افغاني تولیداتو محدوده اندازه اخستلې شي او د ازبک پېرودونکو د مصرف کچه معلومه او مشخصه ده، چې په دې بازار کې د څومره مبلغ پېر وکړي. په دې برخه کې اساسي ستونزه او ننګونه دا ده چې ازبک پېرودونکي ممکن په دې بازار کې د محدود مصرف له کبله د خپلو اړتیاو په مرفوع کولو ونه توانېږي او اړ دي چې انتظار وباسي ترڅو د خپلې خوښې افغان تولید هغه اندازه چې غواړي، ترلاسه یې کړي.
- د دې ترڅنګ ازبک پېرودونکي د پېرودل شویو توکو په مقابل کې خپل دولت ته د تعرفې او مالیاتو پر ورکړې مکلف دي، له همدې امله ازبک پېرودونکو ته افغان تولید په لوړه بیه تمامېږي او دا موضوع د ازبک کورنیو په اقتصاد منفي اغېز کوي. که د ازبکستان د سړي سر عاید ته وکتل شي، نو د منځنۍ آسیا د ځینو هېوادونو(قزاقستان او ترکمنستان) په نسبت د دوی د سړي سر عاید کم دی. قزاقستان په ۲۰۲۴ز کال کې ۱۴۰۰۵,۳ ډالر سړي سر عاید او ترکمنستان په دغه کال کې ۸۵۷۱,٦ ډالر سړي سر عاید درلود چې په مقابل کې یې د ازبکستان د سړي سر عاید کچه ۳۱٦۱,۷ ډالر و (World bank, 2024). څېړنو ښودلې چې په اوږد مهادل کې یوه سلنه سړي سر عاید ډېروالی د کورنیو په مصارفو کې ۱,۲۰۸۴ سلنه ډېروالی راولي (Cüneyt & Hüseyin, 2020) . دا چاره د مصرف پر کچه او د پیر پر ځواک مستقیم اغېز ښندي. په همدې ډول د مالیې په وضع کولو سره د جنس وروستی نرخ پورته ځي، نو دا هم جوته ده،

چې د نرخ دغه بدلونونه د کورنیو په لګښتونو باندې اغېز کوي (Cashin, 2017).

- افغان پېرودونکو ته د ازبک تولید یوه ننګونه دا هم ده، چې په دغه بازار کې یوازې د ازبکستان په پیسو (UZS) باندې خرڅلاو ترسره کېږي، له دې امله کله چې افغان پېرودونکي یاد بازار ته ور داخل شي، د تبادلې نرخ، دوباره د پیسو پاتې کېدل او بیا هم له افغانیو سره تبادله کېدل او په دې تبادلو کې توپیرونه افغان پېرودونکو ته مالي زیان رسوي. د ګډ بازار د اصولو له مخې اړتیا ده چې په دواړو کرنسیو پېر او پلور ترسره شي. دا موضوع د افغانیو او د UZS له تقاضا او د همدې تقاضاو له ادرسه د دغو کرنیسو په ارزښت اغېز لرلی شي.
- په بازار کې د افغان تولید لپاره د ازبکستان د تولید په پرتله د نسبتاً لږ شمېر هټیو ځانګړي کېدل، د ازبک پېرودونکو لپاره دا ستونزه زېږولې، چې دوی د خپلې خوښې، غوښتنې او اړتیا د پوره کولو لپاره کم فرصت لري.
- د دواړو هېوادونو اقتصادي نابرابري یو بله مهمه موضوع ده. په ۲۰۲۳ز کال کې د افغانستان ناخالص تولید ۱۷,۳ میلیارد ډالر و (WB, GDP Afghanistan, 2023) چې په نوموړي کال د ازبکستان ناخالص داخلي تولید ۱۰۲,٦۴ میلیارد ډالر ښودل شوی دی (WB, GDP-Uzbekistan, 2023). له محاسبې جوتېږي، چې د افغانستان او ازبکستان د ناخالص تولید توپیر تر ۹۸۳ میلیون ډالر دی. پر دې سربېره د دواړو هېوادونو د سړي سر عاید هم یو له بله سره ډېر توپیر لري. په دې توګه افغان تولید همدغو ټکو ته په کتو له ازبک تولید سره د سالم رقابت په برخه کې له خنډونو او ستونزو سره مخ دی. په عمومي توګه په ازبک او یا هم د ګاونډیو هېوادونو په بازارونو کې د افغان تولید د سهم او د ملاتړ پر وړاندې د شته ننګونو له منځه وړل اړین دي.

**۵. پایله**

له څېړنې جوتيږي چې ګډ بازارونه ګڼې اقتصادي ښېګڼې لري او په نړۍ کې ګډو بازارونو، آزادو سوداګريزو زونونو او ځانګړو سوداګريزو زونونو د اوږدې مخينې په لرلو سره چټک پرمختګ کړی دی. آسیايي هېوادونو کې چين او ځينو نورو له دغو سوداګريزو بازارونو ډېره ګټه پورته کړې ده. په دې لړ کې، د افغانستان –ازبکستان ګډ سوداګريز بازار چې د ازبکستان د ترمذ په خاوره کې په ۲۰۲۴ز کال کې د دواړو لورو له خوا پرانيستل شوی، د اقتصادي او سوداګريزو فرصتونو سره په خوا کې يو لړ ستونزې او ننګونې هم لري، چې هواری يې د دواړو هېوادونو په ګټه دی. په دغه بازار کې د افغان سوداګرۍ او توليد پرمخ پرتو ستونزو د افغان توليد د پراختيا مخه ډب کړې ده. د زېربناوو په برخه کې، لکه: د هوټل، راستورانټ، هاسټل، روغتون، تفريحي پارک او يو شمېر نورو برخو کې افغان سوداګرو ته د پانګونې پوره فرصت نه دی برابر شوی او په دغو برخو کې يوازې ازبک لوري پانګونه کړې ده. د دې ترڅنګ د ازبک پېرودونکو او له بازار څخه ليدونکو ته د تګ راتګ په برخه کې ننګونې شته دي. د دې ترڅنګ، په دغه بازار کې هټيوال يوازې د ازبکستان په پيسو (UZS) پلور ترسره کوي او له همدې کبله افغان پېرودونکي مجبوره دي چې خپلې پيسې د ازبکستان پيسو ته بدلې کړي، که څه هم دې موضوع په ګډ بازار کې د ازبکستان د پيسو تقاضا لوړه کړې او په ارزښت يې مثبت تاثيرات لري، خو برعکس په دغه ګډ بازار کې د افغانيو عام نه چلښت د افغانيو په ارزښت منفي اغېزې کوي او هم پېرودونکو ته ستونزې جوړوي، په داسې حال کې چې په دواړو کرنيسو باندې معاملې کولی شي چې د دواړو هېوادونو د کرنسيو د اعتبار او په دې برخه کې د سالم مالي او تبادلوي سيالۍ لپاره زمينه برابره کړي.

**٦. وړاندیزونه**

ګډ بازارونه هغه وخت لا ډېرې مثبتې پايلې لرلی شي، چې شته ټولې سوداګريزې او اقتصادي ستونزې او ننګونې يې له منځه ولاړې شي او د دغو بازارونو او آزادو زونونو له اقتصادي اهميت څخه د ټولو اړخونو له لوري د دوی د ونډې، اړتيا او غوښتنې او د بازار د اصولو سره سم ګټه پورته شي. تر څنګ يې ښکېلو لورو ته د سوداګريزو قوانينو او اصولو د پلي کېدو په برخه کې د بشپړې همغږۍ زمينه برابره شي. دا چې افغانستان – ازبکستان ګډ سوداګريز بازار د دواړو لورو د سوداګرۍ له پراختيا سره مرسته کوي او دواړو لورو ته اقتصادي ښېګڼې لري، په همدې موخه لاندې وړانديزونه کېږي:

- د صنعت او سوداګرۍ وزارت او د بېلابېلو اصنافو اتحاديو ته وړانديز کيږي چې د ازبکستان له لوري سره په دغه بازار کې د شته ستونزو او ننګونو د حل په موخه بشپړه همغږي رامنځته کړي او په دې برخه کې مخکنيو هوکړو ته په کتو نوې دوه اړخېزه او موثره هوکړه ترسره کړي.
- د صنعت او سوداګرۍ وزارت او صنفي اتحاديو ته وړانديز کيږي چې په دغه بازار کې د هېواد توليد دايمي نندارتون لپاره يو ځانګړی ځای په نښه او د مقابل لوري سره په همغږۍ ګډ دايمي نندارتون جوړ کړي.
- د اسلامي امارت اړوندو ادارو ته وړانديز کيږي چې د ګډ بازار ازبک پېرودونکو او مراجعينو ته د تسهيلاتو رامنځته کولو او د شته ننګونو د له منځه وړلو لپاره لاس په کار شي، ترڅو ازبکانو ته د افغاني توکو د پېر پر وړاندې ټاکل شوې تعرفه معاف او د سوداګرۍ د پراختيا لپاره د ازبکستان له لوري سهولتونه ايجاد شي.

- د صنعت او سوداګرۍ وزارت، د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې[1] او نورو دخیلو ادارو او بنسټونو ته وړاندېز کېږي چې د افغانستان په خاوره کې دننه له ګاونډیو او د سیمې له هېوادونو سره ګډ بازارونه او د آزادو سوداګریزو زونونو د رامنځته کولو لپاره کار وکړي.

[1] ACCI

**ماخذونه:**

ACCI. (1403). *ACCI.org.af*. Available at: https://acci.org.af/pa/more/

ADB. .(۲۰۲۳) *Economic Corridor development form conceptula framwork to practical implementation sep/2023*. Asian Development Bank. doi:DOI: http://dx.doi.org/10.22617/TCS230348-2

Airitom. .(۲۰۲۵) *airitom.com* .Retrieved from: airition.com: https://airitom.com

Ariana. .(۲۰۲۶) *Uzbekistan–Afghanistan trade rises to $1.6 billion in 2025*. kabul: Ariana news. Available at: https://www.ariananews.af/uzbekistan-afghanistan-trade-rises-to-1-6-billion-in-2025/

Cashin, D.) April/2017). *federalreserve.gov* . Available at: https://www.federalreserve.gov/econres/feds/the-household-expenditure-response-to-a-consumption-tax-rate-increase.htm

Cüneyt & Hüseyin. .(۲۰۲۰) The Link between GDP and Household Consumption Expenditures in the Long-run in. *Balkan and Near Eastern Journal of Social Sciences*-۱۷۱ , .۱۷۷ https://ibaness.org/bnejss/2020_06_01/14_Koyuncu_and_Unal.pdf

Fernandes, N./۱۸) sept/2024). *IFZA*. Available at: ifza.com: https://ifza.com/en/the-role-of-free-trade-zones-in-creating-investment-opportunities/

Ford, D. J./۴) sept/2024). *https://ifza.com/en/* .Available at: https://ifza.com/en/role-of-free-zones-in-the-global-economy-dubai/

Goryachkin, P. .(۲۰۲۴/۱۲/۲۲) *uz.kursiv.media* .Available at: uz.kursiv.media: https://uz.kursiv.media/en/2024-12-22/cherez-torgovyj-czentr-termez-eksportirovali-produkcziyu-na-155-mln/

irsalogistics. .(۲۰۲۵/۹/۳) *irsalogistics* .Available at: irsalogistics: https://irsalogistics.com/introduction-to-free-trade-zones-worldwide/

Kamran, N. .(۲۰۲۴) *zabulicenter* .Available at: zabulicenter: https://zabulicenter.org/op-eds-details?lang=dr&nid=191

nca. .(۲۰۲۴/۸/۳۰) *news central asia*. Available at: https://www.newscentralasia.net/2024/08/30/international-trade-center

oec. .(۲۰۲۵) *Observatory of Economic Complexity* . Available at: https://oec.world/en/profile/bilateral-country/afg/partner/uzb

Prosper Ng'andu,Lewis Bwalya Chilufya, David Phillips. .(۲۰۱۹)Free Trade Agreement and Prospects of RegionalIntegration in Southern Africa: An Evaluation ofImpingements to Southern Africa DevelopmentCommunity (SADC) Free Trade Area (FTA). *International Journal of Innovative Science and Research Technology* .۴۹۵-۴۸۹ ,(۹)۴ ,Available at:

https://www.researchgate.net/publication/383665456_Free_Trade_Agreement_and_Prospects_of_Regional_Integration_in_Southern_Africa_An_Evaluation_of_Impingements_to_Southern_Africa_Development_Community_SADC_Free_Trade_Area_FTA

tradingeconomics. (۲۰۲۵). *tradingeconomics* . Available at: https://tradingeconomics.com/uzbekistan/imports/afghanistan

uzbekistan, p. o. (۲۰۲۱/۶/۱). *president office of uzbekistan* . Available at: president office of uzbekistan: https://www.president.uz/en/lists/view/4393

Vladimir & Strokov. (۲۰۰۶). *The Economic Reconstraction of AFghanistan and the role of Uzbekistan.* United Kingdom: Defence Academy of the United Kingdom. Conflict Research Center.

WB. (۲۰۲۳). *GDP Afghanistan.* World bank. Available at: https://data.worldbank.org/indicator/NY.GDP.MKTP.CD?locations=AF

WB. (۲۰۲۳). *GDP-Uzbekistan.* Available at: https://data.worldbank.org/indicator/NY.GDP.MKTP.CD?locations=UZ

WB. (۲۰۲۴). *world bank* .Available at: data.worldbank.org: https://data.worldbank.org/indicator/NY.GDP.PCAP.CD?locations=TJ-UZ-KZ-TM-KG

احساس, ب. (۴/لیندۍ/۱۴۰۳). بی بی سی. پر لیکه: https://www.bbc.com/pashto/articles/ced9jgvx7p7o

. پرلیکه:*sputnik*اسپوتنیک. (۲۰۲۵/۹/۲۶).
https://sputnik.af/20251103/
iraf.ir: https://iraf.ir/?p=84802ایراف. (۲۰۲۴). *ایراف*. وګورئ:
د صنعت او سوداګرۍ وزارت. (۱۴۰۲). *د صنعت او سوداګرۍ وزارت*. وګورئ:
ګزارش تحلیلی و مقایسوی میزات تجارت افغانستان طی سال ۱۴۰۱...:
https://moci.gov.af/sites/default/files/2023-08/
قديري، ل. (14/سلواغه/1403). *طلوع*. وګورئ:
https://tolonews.com/pa/business-192899